# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱۲مه | ۵۱۳مه ګڼه


# تر نسبي آرامتيا وروسته؛

## کابل ښاريانو د سې شنبې سهار له خونړي بريد سره همماله پيل کړ





د جګړې د شدت وېره او د سولې لپاره د ولسي فشار اړتیا

۲ مخ

آیا مونږ یو ملت یو؟

۲ مخ

دا لس خیزونه هر سهار خپل ځان ته وواياځ

۳ مخ

## سرچيني: طالبانو د اوږدې مودې لپاره د تاوتریخوالي کموالی منلی دی

په دوحه کې د طالبانو او زلمي خليلزاد په مشرۍ، د امريکايي پلاوي تر منځ لسم پړاو مذاکرات چې ظاهراً د سولې هوکړې د لاسليک پر خرنګوالي خبرې وې، پای ته رسېدلي دي.
د طالبانو او امريکا تر منځ د مذاکراتو له جريان څخه يوې باخبره سرچينې ويلي چې طالبانو له امريکايي پلاوي سره په وروستيو مجلسونو کې د اوږدې مودې لپاره د تاوتريخوالي کموالی منلی دی. سرچينه وايي چې د سولې نهايي شوې توافقنامه د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو له لوري هم تاييد شوې، خو امريکايان د ولسمشر ډونالډ ټرمپ تاييد ته په تمه دي.
د سرچينې په خبره: «په دوحه کې د طالبانو او امريکا مذاکرات تمام شوي دي، طالبانو د اوږدې مودې لپاره د تاوتريخوالي کموالی منلی دی، د سولې نهايي شوې هوکړه د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو له لوري منل شوې، خو امريکايان اوس په تمه دي چې د ټرمپ له لوري تاييد شي.»
په ورته مهال په دوحه کې د طالبانو او امريکا تر منځ د مذاکراتو له جريان څخه باخبره کسان وايي، چې طالبانو په دې وروستيو کې د مذاکراتو جريان له اوږدېدو خپلو سياسي مشرانو ته شديده نارضايتي ښودلې ده.
دوی وايي چې د طالبانو پوځي قوماندانانو په قطر کې خپلو استازو ته ويلي چې د سولې خبرې ژر يوې نتيجې ته ورسوي؛ ځکه د خبرو دوام له کومې پايلې پرته د دوی زغم نور ختم کړی او دا به په پسرلنيو عملياتو کې د دوی د جنګياليو پر مورال ناوړه اغېز وکړي.

## په تېرو ۱۷ کلونو کې د افغانستان د بیارغونې پر مهال نږدې پنځو زرو افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې



۳ مخ

کتاب

۴ مخ


## کاروبار






که غواړی کاروبار مو پرمختګ وکړي، بازارموندنه یې باید یوه برخه وي. په کوچني کاروبار کې بازارموندنه هغه څه ده چې باید ځانګړي کس، رسنۍ او يا هم اړوند یوه شرکت ته وسپارل شي، څو په ښه ډول يې تر سره کړي.

## سوداګرۍ وزارت: د صنعتي پارکونو بودجه ۶۵۰ میلیونو افغانیو ته لوړه شوې ده



د سوداګرۍ وزارت چارواکو ويلي، د پانګونې د ډېرېدو په موخه، د صنعتي پارکونو بودجه له ۱۵۰ ميليونو ۶۵۰ ميليونو افغانيو ته لوړه شوه ده. د دغه وزارت په رسمي وېب پاڼه کې راغلي چې دا موضوع د دغه وزارت له پانګې اچونې د ملاتړ په پنځوسمه غونډه کې مطرحه شوې ده. خو د سوداګرۍ او پانګې اچونې خونې وياند جان آغا نويد په هېواد کې د صنعتي پارکونو د کموالي ستونزو ته په کتو ويلي، چې دغه زياته شوې بودجه د پارکونو لپاره اوس هم بسنه نه کوي.
هغه زياته کړې: «دا يو نېک قدم دی، خو تاسې پوهېږئ افغانستان له دې مخکې زيات صنعتي پارکونه نه درلودل، دا اندازه بودجه بسنه نه کوي، خو يو نېک قدم دی، کېدای شي يو د ځينو پارکونو اړتياوې پوره کړي.» نوموړی وايي چې افغانستان له کړکېچ څخه د يوه تازه راوتلي هېواد په توګه اړتيا لري چې پر صنعتي پارکونو له دې زياتې پيسې ولګوي.

## جوبايډن ته د کرزي پېغور: راشه د راتلونکي نوي کال په جشن کې ګډون وکړه او زموږ يووالی وګوره



پخواني ولسمشر حامد کرزي د امريکا د ۲۰۲۰ ز کال ټاکنو ته د نوماند جوبايډن پر خبرو يو وار بيا غبرګون ښودلی دی.
نوموړي په يوه خپاره کړې ټوېټ پيغام کې جوبايډن ته د پېغور په بڼه ويلي، چې افغانان له زرګونو کلونو راهيسې د نوي کال ګډ او ملي جشن نمانځي. ښاغلي کرزي بايډن ته بلنه ورکړې چې سږ کال په دې جشن کې ګډون وکړي. ده په ټوېټ پيغام کې ويلي، افغانان له زرګونو کلونو راهيسې هر کال د نوي کال تاريخي جشن نمانځي چې د يووالي تر ټولو لوی جشن دی.
دا په داسې حال کې ده چې جوبايډن څو ورځې مخکې په يوه مناظره کې د خبرو پر مهال ويلي وو، چې افغانان هېڅ وخت يو ملت نه شي کېدلی او په دغه هېواد کې پر ملت جوړونې بايد لګښتونه ونه شي. د بايډن دا خبرې په افغانستان کې د ډېرو سياسيونو او خلکو له توند غبرګون سره مخ شوې او هغه يې يو بې خبره او کمزوری شخصيت بللی دی.




## دریـځ

## د جگړې د شدت وېره او د سولې لپاره د ولسي فشار اړتیا

له څو میاشتني ځنډ وروسته، پرون یو ځل بیا په کابل ښار کې ځانمرگی برید وشو چې پکې څلور نظامیان او دوه ملکي وگړي ووژل شول او دیارلس نور نظامیان او ملکیان ټپیان شول. برید په پنځمه ناحیه کې د مارشال فهیم نظامي پوهنتون په دروازه کې شوی. له دې سره کورنیو چارو وزارت وایي، په سیمه کې یې له چاودېدونکو توکو یو ډک موټر هم نیولی او شنډ کړی یې دی. پرون په همدې ناحیه کې پر یو بل نظامي موټر هم چسپکي ماین چاودلی چې د مرگ ژوبلې په اړه یې معلومات نشته. د دغه برید مسوولیت چا نه دی اخیستی، خو د سیاستوالو، حکومتي چارواکو او ځینو هېوادونو له خوا دا برید غندل شوی دی.

په کابل او نورو لویو ښارونو کې له څو کوچنیو پېښو پرته، له یو څه وخت راهیسې چاودنې او ځانمرگي بریدونه نه وو. داسې ښکارېدله چې دا چاره د سولې له خبرو سره تړلې وي. که څه هم په دې تړاو رسمي توافق نه و شوی، خو ویل کېدل چې امریکا او طالبانو د حسن نیت لپاره له خپله اړخه د تاوتریخوالي پر کمولو شفاهي هوکړه کړې وي. په دې موده کې نه یوازې په ښارونو کې بریدونه نه وو، بلکې په کلیو کې هم هوایي بریدونه او بمبارۍ درول شوې او یا هم کمې شوې وې. که څه هم په ځینو ولایتونو کې د جگړو او نښتو رپوټونه وو، خو تاوتریخوالی په بې ساري ډول کم شوی و. نږدې دوې اونۍ وړاندې یو ځل بیا په کلیوالو سیمو کې هوایي بریدونه او بمبارۍ پیل شوې. په دغو بریدونو کې تر ډېره ملکي وگړي ووژل شول، چې آن د افغانستان د بشري حقونو حکومت پلوه کمېسیون هم وویل چې په دې هوایي بریدونو کې پنځوس ښځو، ماشومانو او بې گناه وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده. داسې وېره وه چې طالبان به دغو بریدونو ته په غبرگون کې په ښارونو کې بریدونه پیل کړي. که څه هم طالبانو د پروني برید پړه نه ده اخیستې، خو که دا کار طالبانو کړی وي، نو دا په رښتیا هم ډېر بد پیغام لري. له دې سره دا وېره زیاتېږي چې په کلیو کې به بمبارۍ او هوایي بریدونه او په ښارونو کې به ځانمرگي او چاودنې بیا زور اخلي. که داسې وشي، نو نه یوازې ملکي وگړو ته به پراخه مرگ ژوبله اوړي، بلکې د سولې پروسه به هم له جدي خنډونو سره مخ کېږي.

اوس پکار ده چې د دغو بریدونو او جگړې له شدت وړاندې د سولې لپاره گامونه واخیستل شي. هغوی چې د سولې مخالفت کوي او یا داسې شرطونه وړاندې کوي چې د سولې په چاره کې خنډ پیدا کوي، د دغه ډول وحشتونو دوام غواړي. ولس او سوله غوښتونکي سیاستوال باید لا زیات فعال شي. د سولې لپاره باید پر ټولو اړخونو سیاسي او ولسي فشار زیات شي. پکار ده چې تر هر څه وړاندې د دغو بریدونو د درولو غوښتنه وشي او ورسره سم دې د سولې لپاره یو پیاوړی غږ را پورته شي. که همدا اوس د سولې لپاره یو پیاوړی غږ پورته نه شي، ښکېل اړخونه فشار احساس نه کړي او د سولې په برخه کې مهم گامونه وا نه خیستل شي؛ نو وېره ده چې جگړه به سخته شي او د سولې په برخه کې شوي پرمختگونه به له منځه ولاړ شي.

# آیا مونږ یو ملت یو؟

لیکنه: برکت الله اریوبي

د امریکا متحده ایالاتو ډیموکرات گوند مخکښ غړي او د امریکا راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو نوماند جوبایډن خبرې یو ځل بیا په افغانستان کې د خبرونو سرټکي جوړ کړل. بایډن ادعا کړې وه چې افغانان هېڅکله یو متحد ملت نه شي کېدای. دا چې د دې خبرو تر شا څه دي او په غرب کې وخت په وخت چارواکي او سیاستوال ولې دا ډول خبرې کوي، دا یوه بېله مسئله ده او دلته یې نه څېړو. په دې لنډه لیکنه کې هڅه کوو څو دې پوښتنې ته ځواب ووایو چې آیا افغانان په رښتیا یو ملت نه دي او د دې وړتیا نه لري چې یو متحد ملت شي او د یو ملت کېدو پر وړاندې یې ستر خنډونه څه دي؟ څه ډول کولای شو په نړۍ کې د یو متحد ملت په توگه سر راښکاره کړو؟ مخکې له دې چې پورتنیو پوښتنو ته ځواب ووایو، ښه ده چې د ملت په اړه ابتدایي معلومات وړاندې کړو.

د ملت په اړه یو واحد تعریف نشته؛ ځینې د ملت جوړونې لپاره اساسي عنصر هماغه د سیاسي سازمان شتون ضرور بولي، ځینې نور یې ژبه او گډ فرهنگ د ملت جوړونې لپاره لازم گڼي. همداراز نور یې وایي چې گډه تاریخي مخینه کولای شي د ملت په تشکیل او د ثبات په تامین کې مهمه ونډه ولري، په داسې توگه چې نور به د مشترکې ژبې او فرهنگ شتون ته اړتیا حس نه شي.

له ملت څخه لومړنۍ برداشت په حقیقت کې د فرانسې لوی انقلاب په آزادي غوښتونکو غورځنگونو کې ریښه لري چې له مخې یې د ملت اصلي ځانگړنه په سیاسي سازمان یووالي کې نغښتې ده، نه ژبني او فرهنگي یا تاریخي وحدت کې. نو د دې اخذ له مخې، د ملت رامنځ ته تگ د یو سیاسي سازمان په تشکیل او شتون پورې تړلی دی. یا په بل عبارت، د ملت مفهوم له دولت هغه څه مؤخر دی. د دې مقولې پر اساس، کله چې په یوه مشخصه جغرافیایي سیمه کې سیاسي سازمان(دولت) رامنځ ته شي؛ له قومیت، ژبې، فرهنگ او تاریخي مسایلو پرته یو واحد ملت راجوړوي. د هغوی په عقیده، د هماغه سیاسي سازمان خلکو تر منځ چې کومه نوې اړیکه جوړېږي، په خپله د گډو موخو، مصلحتونو او منافعو رامنځ ته کېدو سبب گرځي، چې له یوه اړخه د ثبات او نظم رامنځ ته کېدو او له بله اړخه د دوی گډو موخو ته د رسېدو په لار کې مؤثر تمامېږي. دا نظریه تر ډېره پاتې نه شوه او د یوې تیورۍ تر کچې یې تنزیل وکړ؛ ځکه چې په ۱۹مه او ۲۰مه پېړۍ کې ملتونو واحد دولتونه جوړ کړل، له دې نظریې سره په ټکر کې ده او دا بیانوي چې لومړۍ ملت رامنځ ته کیږي او ورپسې ملت، واحد دولت رامنځ ته کوي او هغه نظریه چې تر مخې یې دولت د ملت جوړونکی دی، پرته له دې چې بل هیڅ ډول مشترکات ولري، له پورتنیو واقعیتونو سره په تعارض کې واقع کیږي.

بله نظریه تر ډېره د گډ فرهنگ او ژبې پر رول باندې ټینگار کوي. د دې نظریې له مخې، د یو ملت په جوړولو کې مهمترین عنصر هماغه ژبه ده چې البته په عامه مانا دا ژبه د ټول مشترک تاریخ، فرهنگ او رواجونو بیانوونکې ده. نو ځکه د دې برداشت له مخې، د بشر مخلوق چې د اقوامو په بڼه د یو او بل ترڅنگ له مختلفو ژبو، فرهنگ او تاریخ سره یو ځای کیږي، دولت جوړوي؛ هیڅکله ملت نه شي کېدای. د دوی په خبره، بشریت د طبیعت په حکم د ملتونو تر منځ وېشل شوی، نه د ملتونو په واسطه.

درېیمه نظریه چې په دې اړه وړاندې شوې، نسبتاً جامع ښکاري. دا نظریه د پورتنیو نظریاتو نسبي مزایاوې مني او په کامله توگه یې نه نفي کوي. دا دوکتورین تر ډېره د «گډ اوسېدو په اراده او قصد» تاکید کوي. د دې نظریې له مخې، د یوې ټولنې وگړي په هغه صورت کې کولای شي ملت جوړ کړي چې وغواړي د یو او بل ترڅنگ په مسالمت آمیزه توگه ژوند وکړي. دا سوله ییز ژوند د یو او بل په څنگ کې په لومړۍ مرحله کې، د ټولنې په سطحه د مشترک کار او همغږۍ هڅې په وروسته مرحله کې د ټولې ټولنې د افرادو تر منځ یو گډ احساس ته اړتیا پیدا کوي، چې د یو ملت د وگړو تر منځ دغه ډول گډ او مشترک احساس یا په بل عبارت «گډ درد» باندې تعبیرولای شو. کله چې د یوې ټولنې خلک «گډ درد» ولري، په حقیقت کې دا درد له مشترک تاریخ او فرهنگ څخه سرچینه اخلي. پر دې اساس، د یو ملت تر منځ گډ تاریخ کېدلای شي د ملت جوړونې پروسه او موخو ته د رسېدو په موخه لازم گام وبلل شي. د دې نظریې له مخې، هغه مختلف اقوام چې په یوه مشخصه جغرافیایي سیمه کې ژوند کوي او په تاریخي لحاظ د مشترکاتو درلودونکي دي، کولای شي د ملت په تشکیل کې کامیاب گامونه پورته کړي.

افغانستان د یو تاریخي هېواد په توگه چې پخوانۍ (آریانا) ۵۰۰۰ کلن تاریخ لري او د یو هېواد په توگه ۳ پېړۍ کیږي چې د دولت- ملت په توگه په آسیا وچه کې مطرح دی. البته د مساحت کموالی یا ډېروالی نشي کولای په مشخصه زماني محدوده کې د ملت اهمیت کم شي. که د هېواد د تاریخ پاڼې واړول شي، وبه لیدل شي چې د دې سیمې خلک د تاریخ په پېر کې د گډ او سوله ییز اوسېدو نیت او اراده درلوده. همدا راز یې له خپلو خلکو او ارضي تمامیت څخه د دفاع قصد موجود و. لکه څه ډول چې د پخوانۍ آریانا په وخت کې د گډې ارادې په درلودلو سره دې خلکو وکولای شول د تورانیانو پر ضد مبارزه وکړي او د یوې سوله ییزې فضا تر چتر لاندې په آریانا کې ژوند وکړي. همدا راز د گډ دین، ژبې، ځمکې او ارادې خاوندان وو، البته تاریخ پر دې گواه دی. وروسته تر هغې چې د دې سیمې خلک د اسلام پر مقدس دین مشرف شول، زمونږ هویت ته یې نوې بڼه او ساه ور وبښله او په همدې وخت کې زمونږ خلکو د امویانو، عباسیانو او تاتاریانو پر ضد مبارزه وکړې او د اسلامي نړۍ سیاسي سرنوشت یې ټاکلی دی. دا حرکت د هېواد له شمال څخه پیل چې ابو مسلم خراساني یې مخکښ و. دا مبارزه تر غور او مرکزي سیمو ورسیده چې په دې گډه مبارزه کې امیر کروړ او امیر فولاد چې د پخواني غور امرا وو، هم فعاله ونډه درلوده. دوی خپل حمایت له ابو مسلم خراساني څخه اعلان کړ. په دې وخت کې هم افغانستان- خراسان د مشترک دین، ژبې(پښتو او دری) تر څنگ، له امویانو او نورو سلسلو سره چې پر دې خلکو یې ظلم کاوه، پر مبارزه بوخت وو.

په ۱۸مه پېړۍ کې د احمدشاه ابدالي ظهور چې په ترڅ کې یوه لویه امپراطوري جوړه کړه، هم زمونږ د خلکو تر منځ د ملت جوړونې په برخه کې عیني عوامل موجود وو. د احمدشاه په حکومت کې د دې جغرافیایي سیمې ټولو وگړو او پرگنو شتون درلود او سیاسي منصبونه یې سره وېشلي وو.

زمونږ په هېواد کې سیاسي او مدني جنبشونه په حقیقت کې د امیر شیرعلي خان په وخت کې سر راټوکوي چې د امیر حبیب الله خان په وخت کې یې رشد کړی او د امان الله خان په وخت کې د «مشروطیت غورځنگ» په رامنځ ته تگ سره خپل اوج ته ورسید. له انگلیسانو سره د افغانانو تاریخي درې جگړې چې په پای کې افغانستان خپله خپلواکي بیا تر لاسه کړه، په دوران کې ملت جوړېدو لوی دلیل کېدای شي چې په ترڅ کې یې ټولو افغانانو په یوه خوله او یو تغر سره راټول شول او د انگلیس پر ضد یې مبارزه پیل کړه. شمال او جنوب، لوېدیځ او شرق ټولو وگړو د انگلیسانو پر ضد خپله نعره پورته کړه او له دې خاورې یې دفاع کړې ده. همدا راز د شوروي اتحاد د تجاوز په مقابل کې د افغانانو گډه او یو موټې مبارزه د دې خبرې ښکاره ثبوت دی.

دا چې ملت پالنه یو رامنځ ته شوی او جوړ شوی هویت دی، نو د مخ پر ودې نړۍ د ملتونو تر منځ د پام وړ ځانگړې توپیرونه کومه د تعجب خبره نه ده. ښکېلاک د قومي- سیاسي هویتونو په پرتله د ملي هویتونو په رامنځ ته تگ کې ډېر عمده رول ولوباوه. د مخ پر ودې نړۍ د زیات شمېر دولتونو پولې د استعماري واکمنانو له لوري وټاکل شوې او د ملت پالنې مختلف ډولونه د دغو پولو په داخل کې د حاکمو دولتونو تر منځ د تعامل او قومي- سیاسي هویتونو د جوړښت او شکل پایله ده. همدا راز د قومي- سیاسي ډلو په منځ ته راتگ کې یې رول درلود. د افغانستان د پولو او سرحدونو په ټاکلو کې هم روس او برېټانیې تر ټولو ډېر رول درلود.

دا چې افغانستان له بېلابېلو قومونو او پرگنو څخه تشکیل شوی، دا هېڅکله د دې مانا نه ورکوي چې یو ملت نه دی او یا متحد کېدای نه شي. دلته بېلابېلې ډلې او پرگنې شته؛ د دوی تر منځ به ځینې تعارضات او بنسټیزې سیالۍ وي، لیکن همکاري او سوله ییزې سیالۍ ته چې په مرتب ډول تر سره کیږي د نړیوالو رسنیو ورته ډېره پاملرنه نه ده کړې. په زیاتره هېوادونو کې د شخړې رامنځ ته کېدو په پرتله، د همکارۍ واقع کېدو او پایلو شمېر ډېر زیات دی، که څه هم چې د هغوی او انتقام تر منځ یو ډول گاونډیتوب شته (چې همغه ډلې یا نورې ډلې تر پوښښ لاندې راولي).

همکاري، بنسټیزه سیالي او سوله ییز اعتراض د ډله ییزې سیالۍ د سیاست اړخونه گڼل کیږي، چې زیاتره په څو قومي ټولنو کې تر سره کیږي، خو دا بڼې یوازې ترڅو قومي ټولنو پورې نه شو محدودولای. په څو قومي ټولنو کې د همکارۍ په نشتون کې له شته رژیم څخه د اکثریت ملاتړ نشته. په دغو شرایطو کې په څو توټه شویو ټولنو کې د دغه کار له مخې دوه اړخیزه وېره او هیله منځ ته راځي چې گټونکی طرف به ټولې مزایاوې د خپل ځان په گټه راڅرخوي. کم شمېر کلتوري اختلافونه او د نه سیاسي شویو ډلو شتون همکارۍ ته لار هواروي. په داسې حال کې چې د قومي ډلو د جغرافیایي تمرکز لپاره نه شو کولای د همکارۍ له مخې یو ثابت او مشخص اثر په پام کې ونیسو، په څو توټه شویو ټولنو کې د څو قومي ټولنو په پرتله د انتقام، بنسټیزې شوې او له تاوتریخوالې ډکې سیالۍ امکان ډېر دی. که څه هم دا پېښې یوازې په څو توټه شویو ټولنو پورې نه محدودیږي. د دغه کار دلایل د هغو دلایلو برعکس دي چې په څو قومي ټولنو کې د همکارۍ لامل گرځي.

په لنډه توگه ویلای شو چې د پورتنیو دلایلو له مخې، مونږ یو ملت یو، د یو مشخص سیاسي واحد تر چتر لاندې ژوند کوو؛ گډ تاریخ، ژبه، فرهنگ او مشترک ارزښتونه لرو. لیکن دا چې کثیرالقومي ملت یو او د تاریخ په پېر کې مونږ د ډېرو بې عدالتیو، ناخوالو، بهرنیانو مداخلو او ... ښکار گرځېدلي یو، د ملي دولت نشتون، حاکم استبداد د ملت جوړونې پروسه ټکنې کړې چې په لویه کې یې دغه پروسه اغیزمنه کړې ده. د قوم په استازیتوب ځینې سیاسیونو هم دې پروسې ته صدمه رسولې او د خپلو شخصي گټو پاللو په موخه یې قومي- سیاسي هویت ته تبارز ورکړی. د دې لپاره چې زمونږ په هېواد کې ملت جوړونه گړندۍ او کامیابه شي، اړینه ده چې ملي قوي او ولسواک دولت رامنځ ته، اجتماعي عدالت پلې کړو، استبداد، ظلم او زور زیاتی پای ومومي، قبیلوي ساختار ضعیف شي، د مخدره توکو کرکېله کمه او له فساد سره مبارزه وشي، محلي جنگسالاران ضعیف او یا له منځه یوړل شي او هغه نور حاشیوي عوامل چې دا پروسه یې ټکنۍ کړې، له منځه ولاړ او په پای کې د قومي- سیاسي هویت پر ځای، ملي- سیاسي هویت ته تبارز ورکړو.

# تر نسبي آرامتیا وروسته؛

## کابل ښاریانو د سې شنبې سهار له خونړي برید سره همهماله پیل کړ



تر اوږدې ارامۍ وروسته، تېره ورځ سهار مهال کابل د یوه ځانمرګي برید شاهد و. د پنځمې حوزې په مربوطاتو کې د مارشال فهیم نظامي پوهنتون مخې ته ځانمرګی برید وشو. کورنیو چارو وزارت وایي چې د دوو ملکیانو په ګډون، په پېښه کې پنځه کسه وژل شوي دي او دغه راز ۱۲ کسه نور ټپیان دي. ځینو رسنیو بیا د وژل شوو او ټپیانو شمېر تر دې هم ډېر بللی دی. په کابل کې د امریکا سفارت او افغان حکومت دغه برید غندلی او هغه یې د سولې د روانو هڅو د تخریب په مانا بللی دی.

په کابل او لویو ښارونو کې اوږده موده نسبي آرامي رامنځ ته شوې وه. ښاریان د بریدونو د کمېدو له درکه خوشاله وو، خو تازه پرون دغه نسبي سکون یوه ځانمرګي برید له منځه یوړ. کابل ښاریان د سه شنبې واورین سهار له خونړۍ او درنې چاودنې سره پیل کړ. چاودنه د کابل ښار د پنځمې امنیتي حوزې په مربوطاتو کې وشوه، خو تر لږې سیمو یې غږ اورېدل شوی دی. له سیمې لومړنیو معلوماتو داسې ښوده چې مرګ ژوبله خورا ډېره ده، خو تر پېښې څو ساعته وروسته کورنیو چارو وزارت د برید په اړه رسنیو ته معلومات ورکړل.

د کورنیو چارو وزارت وایي چې ځانمرګي بریدګر په ځان پورې ترلو چاودېدونکو توکو ته د مارشال فهیم پوهنتون د دروازې مخې ته چاودنه ورکړې ده. د ده هدف ښایي د همدې پوهنتون ساتونکي او محصلین وو، خو په پېښه کې د نظامیانو تر څنګ، ملکیانو ته هم مرګ ژوبله اوښتې ده. په دغه سیمه کې د نجونو یو لوی ښوونځی، ډېر لوی خصوصي روزنیز کورسونه او د ملکیانو لسګونه کورونه شته دي. عیني شاهدان او د سیمې اوسېدونکي دې پېښې وېرولي دي او وایي چې چاودنه خورا درنه وه.

د کورنیو چارو وزارت ویاند نصرت رحیمي مسیر ورځپاڼې ته وویل، چې په پېښه کې دوه ولسي وګړي او درې پوځیان وژل شوي. همدا راز د پنځو ملکیانو په ګډون، ۱۲ کسه په دې پېښه کې ټپیان دي. ځینو رسنیو بیا ویلي وو چې په پېښه کې ۵ کسه وژل شوي او ۲۵ نور ټپیان دي. کورنیو چارو وزارت بیا خپلې شمېرې وروستۍ بولي.

د برید مسوولیت تر اوسه کومې ډلې نه دی منلی، خو ډېرو افغان او بهرنیو چارواکو غندلی دی. د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس وایي، ترهګر په خلکو کې ځای نه لري او دوی د ولس پر ضد ولاړ دي. عبدالله وایي: «کابل کې ترهګریز برید په سختو ټکو غندم، ترهګر په خلکو کې ځای نه لري. د قربانیانو له کورنیو سره غم کې شریک یو.»

له دې سره همهماله په کابل کې د امریکا د سفارت سرپرست هم پر دغه پېښه ژوره خواشیني څرګنده کړې ده. نوموړي په یوه ټوېټ پیغام کې ویلي، هر هغه برید غندي چې په هغه کې د افغانستان ثبات او عامو افغانانو ته زیان اوړي. هغه وایي: «په ننګرهار او کابل کې وروستي بریدونه په کلکو ټکو غندم. په دغه ډول بریدونو کې عامو وګړو ته مرګ ژوبله اوړي او د افغانستان ثبات زیانمنوي.»

روز ویلسن دغه راز په خپل پیغام کې پر افغان سوله ټینګار کړی دی او وایي چې امریکا افغانستان ته د دایمي سولې په راوستو کې هېڅ راز همکاري نه سپموي او په دې برخه کې عملي هڅې روانې دي. له دې سره جوخت د قطر دفتر ته نږدې سرچینو ویلي چې د سولې هوکړې د لاسلیک لپاره ټول شرایط اماده دي، بحثونه ختم شوي دي؛ خو امریکایي لوری تر اوسه لاسلیک ته تیار نه دی. طالب سرچینو ویلي چې امریکایان په لوی لاس د سولې هوکړې د لاسلیک په برخه کې ځنډ او ځنډ رامنځ ته کوي.

په کابل کې دغه برید داسې مهال کېږي چې تر دې وړاندې پر امریکایي ځواکونو د طالبانو یو برید د سولې د خبرو د لغوه کېدو سبب شو. هغه مهال د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي وو چې طالبان لا هم عام افغانان وژني، نو له دوی سره د سولې خبرې نه کوي. تر دوو میاشتو ځنډ وروسته د طالبانو او امریکا تر منځ د زندانیانو تبادله د سولې د خبرو د بیا پیل سبب شوه.

## سیګار: په تېرو ۱۷ کلونو کې د افغانستان د بیارغونې پر مهال نږدې پنځو زرو افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې



د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د سرمفتش اداري یا سیګار ویلي چې له ۲۰۰۲ تر ۲۰۱۹ ز کال پورې د افغانستان د بیارغونې پر چارو په بریدونو کې له ۲۲۰۰ زیات کسان وژل شوي او نږدې ۳۰۰۰ نور ټپیان شوي دي.

د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا ځانګړي استازي جان سوپکو ویلي چې له ۲۰۰۲ ز کال څخه د ۲۰۱۹ ز کال تر پای پورې ۲۲۱۴ تنه په ناجنګي ماموریتونو کې وژل شوي چې ۲۸۴ یې امریکایان دي.

د سیګار په دغه راپور کې ویل شوي چې د ۲۴۸ امریکایانو له ډلې ۲۱۶ یې پوځیان او ۶۸ یې ملکیان وو. په دغه راپور کې هغه بریدونه نه دي شامل چې پر امریکایي پوځي اډو او ملکي اهدافو باندې شوي دي.

سوپکو ویلي چې د ۱۳۱ پوځیانو او ۱۴۴۷ ملکیانو په وژل کېدو سره د مرګ ژوبلې زیاته کچه افغانانو ته رسېدلې، چې د خپل هېواد د بیارغونې لپاره یې ژوند بایللی دی.

د دې تر څنګ، د ائتلاف د غړو هېوادونو ۱۰۰ اتباع او د نورو هېوادونو ۱۲۴ اوسېدونکي هم د افغانستان په بیارغونه کې وژل شوي دي.

هغه ویلي، سره له دې چې د امریکا متحده ایالتونه د یوې احتمالي هوکړې لپاره پر مذاکراتو بوخت دي، خو د ۲۰۱۹ ز کال په وروستۍ برخه کې تاوتریخوالی تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلی دی.

سوپکو زیاته کړې چې سیګار له کلونو راهیسې پراخې هڅې کړې چې د بیارغونې او د افغانستان د ثبات لپاره مالي لګښتونه وڅاري، خو د انساني تلفاتو د شمېر او د هغو کسانو د څارنې په اړه یې چې د دغو فعالیتونو د بشپړولو لپاره یرغمل شوي، لږ هڅې کړې دي

## سټولټنبرګ: طالبان دې سولې او د تاوتریخوالي کموالي ته خپله ژمنتیا وښيي



د ناټو سازمان سرمنشي ینس سټولټنبرګ له طالبانو غوښتي چې سولې او د تاوتریخوالي کمولو ته خپله ژمنتیا وښيي.

نوموړي دغه څرګندونې په بروکسل کې د دغه سازمان د دفاع وزیرانو له دوې ورځنۍ غونډې مخکې په یوه خبري کنفرانس کې کړې دي.

هغه په دغه کنفرانس کې د راتلونکو دوو ورځو د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړي او ویلي یې دي چې په لومړۍ ورځ به د ناټو سازمان پر اړوندو ننګونو او پرمختګونو خبرې کېږي.

نوموړي زیاته کړې چې په دویمه ورځ به د افغانستان په اړه ځانګړې ناسته کېږي چې د افغان سولې پروسې او د ناټو د روزنې ماموریت په کې ارزول کېږي. د ناټو سرمنشي ویلي چې افغان امنیتي ځواکونه د پرمختګ او پیاوړتیا په حال کې دي او دوی به یې ملاتړ ته دوام ورکوي.

سټولټنبرګ د کابل د تېرې ورځې ځانمرګی برید غندلی او له طالبانو یې غوښتي چې له تاوتریخوالي لاس واخلي.

نوموړي زیاته کړې چې طالبان په تاوتریخوالي سره نه شي کولی چې څه تر لاسه کړي.

د هغه په خبره، طالبان باید د تاوتریخوالي په کمولو سره وښيي چې دوی دغه کار او په افغانستان کې سولې ته ژمن دي.

سټولټنبرګ ویلي، ناټو په افغانستان کې د دوامداره سولې د ټینګښت په موخه، د سولې په برخه کې د امریکا د هڅو ملاتړ کوي.

ده ویلي، د امریکا ځانګړی استازی څه موده مخکې دلته بروکسل ته راغلی او د سولې وروستیو هڅو په اړه یې له دوی سره خبرې کړې دي. سرمنشي ویلي چې دوی به د ناټو د غړو هېوادونو له استازو سره د سولې پر هغو لارو چارو بحث وکړي چې دوی تر ټولو غوره سولې او د ثبات ټینګښت رسولی شي.

## راپورونه: په ادلیب کې د بیاځلي اوربند لپاره ترکي او روسي چارواکي هوکړې ته نه دي رسېدلي



د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، د سوریې په ادلیب ښار کې د بیاځلي اوربند د رامنځ ته کېدو لپاره ترکي او روسي چارواکي په خپلو کې هوکړې ته نه دي رسېدلي.

وروسته له هغې چې د سوریې په شمال کې د ترکي او سوري ځواکونو تر منځ د نښتو راپورونه خپاره شول، یو روسي پلاوی پر همدې موضوع د بحث لپاره تېره شنبه ترکیې ته ولاړ چې تر اوږدو بحثونو وروسته دواړه خواوې په ادلیب کې د اوربند پر ټینګښت هوکړې ته نه دي رسېدلې.

د روسي رسنیو د راپورونو له مخې، په دغه پلاوي کې د سوریې لپاره د روسیې ځانګړی استازی الکساندر لاورنټیف، د دغه هېواد د بهرنیو چارو مرستیال وزیر سرګي ورشینین او د دفاع وزارت ځینې چارواکي شامل دي چې له اوږدو بحثونو وروسته کومې هوکړې ته نه دي رسېدلي. دغه راز د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو هم منلي چې له روسي پلاوي سره د سوریې د تازه کړکېچ د هواري په موخه هوکړې ته نه دي رسېدلي. نوموړي ویلي چې دغه خبرې وروسته له هغې بې پایلې شوې، کله چې ترکیې په ادلیب ښار کې د دولتي ځواکونو د عملیاتو د درولو غوښتنه وکړه.

په ورته وخت کې د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د سوریې په شمال کې یوځل بیا د ترکي او سوري ځواکونو تر منځ سختې نښتې پیل شوې چې دواړو لورو ته پکې درنه مرګ ژوبله اوښتې ده. سرچینې د ترکیې د دفاع وزارت په حواله ویلي چې په دغو نښتو کې پنځه ترکي پوځیان او په لسګونو سوري سرتېري وژل شوي دي. سرچینې زیاته کړې چې په جګړه کې د سوریې د پوځ یوه الوتکه هم رانسکوره شوې چې دوه پیلوټان پکې وژل شوي دي.

د یادونې ده چې د سوریې په شمال کې د ترکي او سوري ځواکونو تر منځ دغو نښتو وروسته له هغې یوځل بیا زور اخیستی، چې ترکیې خبرداری ورکړی و چې که د سوریې دولتي ځواکونه په ادلیب کې خپلو عملیاتو ته دوام ورکړي، د دوی له سخت غبرګون سره به مخ شي.

## د کتاب خبرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

## د کاروبار پر اخلاقو څه شوي دي؟




سره له دې چې وروسته چې د اقتصادي رکود پر وخت د پیني سازمان راټولېده، نو نوم يې ورته بدل کړ؛ خو خپله يې د زرين قانون پر اساس کار او ژوند کول او ګټور شراکتونه رامنځته کول بس نه کړل. هغه به خپله فلسفه داسې ويله:((پيسې د خلکو په راشريکولو کې دويمه درجه حيثيت لري.)) ۷

پيني تر ډېرو کلو کاروبار کاوه او خلک يې له ځان سره شريکول. اخر يې کاروبار داسې يوه کس ته وسپاره چې شريک يې و او له ده سره يې په لومړۍ مغازه کې کار کاوه. پيني ۲۴ قراطه زرين ژوند وکړ، له نورو سره يې دروند چلن وکړ، په کاروبار کې يې ارزښت ورکړ او تر خپله وسه يې ښه توکي او محصولات ورته برابر کړل. نوموړي پنځه نوي کاله ژوند وکړ.

يو پخوانی متل دی چې فشار درباندې راشي، نو څه چې در پکې دننه وي، بهر راوزي. زه وايم دا خبره رښتيا ده؛ خو پر دې هم پوهېږم چې يو کس د ۲۴ قراطه زرين ژوند په يوه شپه نه شي جوړولای. پيني بختور و، مور و پلار له ماشومتوبه په زرين قانون وروزه او هغه بيا ټول عمر همدا قانون پلی کړ.

که تاسو هم داسې رالوی شوي يئ، نو له خپل مور و پلاره مننه وکړئ. که داسې نه يئ، نو لا هم د بدلون وخت نه دی تېر شوی. د لايف اټ ورک مجلې چلوونکي توماسن اډينګټن او سټيفين ګرېوز ويلي:((که مور ناڅاپه کومه ورځ اړتيا محسوسه کړو، نو خپل کرکټر ته د لنډمهالو کورسونو له لارې وده نه شو ورکولای. داسې نه کېږي. مور په لنډمهالو زده کړو کې نه ستورمزلي کېدای شو، نه د کب نيونې ماهرين کېدای شو او نه ختګر.)) ۸ همدا نن زرين قانون د خپل ژوند د رښتينولۍ او صداقت لارښود وټاکئ او ټولې پرېکړې د همدې پر اساس مديريت کړئ، نو تاسو به هم د ۲۴ قراطه سرو زرو ژوند وکړئ.

۵

### هغه پنځه عوامل چې زرين قانون تتوي

په ځلورم څپرکي کې مو ولوستل چې مارک ريچ پر کرکټر جوړونې تمرکز کاوه او د ده تمرکز بلاخره د هېواد په کچه د جورجيا کالج لوبډله لوړې درجې او برياليتوب ته ورسوله. خو ځينې وخت اخلاقي پرېکړې دومره ښې نه واقع کېږي. همداسې د مارکوت کاتوليک ليسې د فوټبال له مشر روزونکي مايک سلاوټر سره هم شوي وو.

سلاوټر په(۲۰۰۲ز) کې يوه لوبډله درلوده او «په ژوند کې يوه لوبډله» يې بلله. دوی د ۱۰-۰ ريکارډ درلود او د ايالت په کچه د ليسو د فوټبال سياليو د اتلولۍ ګټلو په درشل کې وه. سلاوټر د هر روزونکي ارمان و؛ خو بيا يوه شپه د ده ټول نوي راغلي لوبغاړي له دې امله پوليسو ونيول چې په کم عمر کې يې په يوه مېلمستيا کې شراب څښلي وو. په دې ګروپ کې د سلاوټر خپل زوی هم و. روزونکي خپلې لوبډلې ته ويلي وو چې که هر يو په شرابو، سګرټو يا نورو نشه يي توکو ونيول شو، نو له په لوبډله کې يې ګډون ځنډوم، اوس يې هم بايد پرېکړه کړې وای.

لوبغاړي يې وځنډول او دا يې مسئوليت وباله. وې ويل:((دوی اصول مات کړي دي.)) خپل زوی يې چې د پوليسو له دفتره راوايست ورته وې ويل:((يوازې دومره درته وايم چې تا هر څه خراب کړل، ته به پر ما ټول عمر ګران يې؛ خو له دې بايد عبرت واخلې.)) کېنول شوو يا ځنډولو شوو لوبغاړو زده کړه وکړه او بيا چې لويه لوبه را ورسېده، نو دوی په ميدان کې پر څوکيو کېناستل او خپله لوبډله يې هڅوله. نور لوبغاړي مخ ته لاړل او خپل اخلاقي روزونکي ته يې د ايالت د اتلولۍ په کچه لويه لوبه وګټله؟ نه! دا لوبه يې په ۰-۶۳ بايلوده. خو سلاوټر بيا هم پر خپلې کړې پرېکړې (لوبغاړو کېنولو) پښېمانه نه و. څو کاله مخکې زنګونه ورته راغلل، ورته وې ويل چې ستا يوه بلدي کس په نشه کې موټر چلاوه او چا وژلی دی. سلاټر پوهېږي چې سمه پرېکړه يې کړې ده او وايي:((ما ته جالبه ده، مور د هغه په کولو دومره مشهور شوو چې سم راته ښکارېده.))

### د زرين قانون بنسټ نړول

سمو کارونو ته نن سبا د خلکو ډېر زيات پام ور اوړي. دا ولې؟ ځکه دا تازه خبره ده چې څوک زرين قانون پلی کوي، منفي پايله يېويني او دا مضمون دی چې هغه يوه کس سم کار کړی دی.

راځي ويې وينو، ډېر شيان داسې دي چې له اخلاقي پولو اوړېدو ته لمسوي. زه له څه باندې پنځه دېرشو کلو راهيسې له خلکو سره کار کوم، اداري رهبري کوم او زياتره خلک مې ليدلي چې معيارونه ماتوي. دا هم درته ويلی شم چې له ډېرو خلکو سره مې د نړۍ په لسګونو هېوادونو کې کار کړی دی، زه باور لرم چې دا لمسول پنځه عوامل کوي. دا پنځه عوامل زياتره خلک دې ته لمسوي يا اړباسي چې له اخلاقي کرښې او معيارونو واوړي:

**دوام لري...**

# کاروبار

◀ اکسوس کتابپلورنځی

معمولاً کار پنځوونکي د کار په پيل کې د زياتې انرژۍ درلودونکي وي او غواړي هر څه ډېر په چټکۍ سره پر مخ بوځي؛ خو له يو څه وخت وروسته يې پام کېږي، ډېر کارونه شته چې لا يې نه دي تر سره کړي؛ ځکه يا يې وخت نه دی ورته پيدا کړی او يا يې هم د تر سره کولو وړتيا نه لري. يا دا چې پانګه يې کمه ده او نه شي کولی د هرې برخې لپاره ځانګړی کس پر دنده وګوماري، هغه ده چې يو څه ناهيلي کېږي او ډېر کله يې د ماتې لامل هم کېږي.

دا هغه څه دي چې د کوچني کاروبار لرونکي ارو مرو ور سره مخ کېږي او يوه طبعي پېښه ده. د دغو کارونو د تر سره کولو لپاره يوه ښه لار اړوندو شرکتونو او متخصصو کسانو ته د کارونو سپارل دي.

۱-بازارموندنه

که غواړی کاروبار مو پرمختګ وکړي، بازارموندنه يې بايد يوه برخه وي. په کوچني کاروبار کې بازارموندنه هغه څه ده چې بايد ځانګړي کس، رسنۍ او يا هم اړوند يوه شرکت ته وسپارل شي، څو په ښه ډول يې تر سره کړي. نن سبا چې د اړيکو او انټرنېټ نړۍ ده، نو بازارموندنه يې هم د پخوا په پرتله اسانه کړې ده. که تاسو د خپلو محصولاتو ځينې نمونې هغو وېب سايټونو ته وسپارئ، چې د همدې برخې لپاره جوړ شوي دي، نو وبه ګورئ چې په پر له پسې توګه به درته خلک په انلاين ډول د توکو د پېرلو غوښتنې استوي. که مو کاروبار نوی پيل کړی وي، نو اړتيا نشته چې خپلې پيسې بې ځايه ولګوئ، څو پېرودونکي را جذب کړی. هڅه وکړئ چې دغه کار د همدې برخې اړوند شرکت ته وسپارئ، ځکه ډېر کله ګټه په تاوان کېږي.

۲-د وېب پاڼې جوړول

لکه څه ډول مو چې مخکې وويل، نننۍ انلاين نړۍ ده. د يوې ښې او هر اړخيزې وېب پاڼې جوړول مو د کاروبار په پراختيا او پرمختګ کې مرسته کوي. د (ورډ پرس) طراح بيل اريکسون وايي، د يوې ښې وېب پاڼې جوړول لږ تر لږه ۱۴ اونيو وخت ته اړتيا لري. که د کاروبار څښتن خپل درې نيم مياشتنی وخت د يوې ښې وېب پاڼې پر جوړولو تېر کړي، نو نور اړين کارونه به يې څوک ورته کوي؟ ښه ده چې دغه کار له دفتره بېرون اړوند او متخصص کس ته وسپاري.

۳-د عکسونو او وېډيو اخيستل

عکسونه او وېډيو د عوايدو د زياتوالي او کاروبار د پرمختګ لپاره نن سبا تر ټولو اړين دي. خو که دغه څه په غير مسلکي توګه تر سره شي، د عکس او وېډيو کيفيت خرابوي، نه يوازې دا چې کاروبار به مو پرمختګ ونه کړي، بلکې منفي اغېز پرې کوي. د عکسونو او وېډيوګانو لپاره بايد پرمختللې کمرې ولري. دغه راز د عکسونو او وېډيوګانو د اېډېټ او ډيزان لپاره ځانګړي کمپيوټر او يوه متخصص کس ته هم اړتيا ده. دا چې ستاسو کاروبار کوچنی دی، د دې برخې لپاره د متخصص کس نيول، ځانګړي کمپيوټر او لوړ قېمت کمرو اخيستل څه اسانه کار نه دی، نو ښه ده چې دغه کار هغه شرکت ته وسپارئ، چې په همدې برخه کې اړين توکي او ځانګړي کسان لري. کېدای شي د يوې قېمتي کامرې په بيې تاسو خپل د څو مياشتو کارونه پر دغه شرکت تر سره کړی.




۴-د ټولنيزو شبکو مديريت کول

ټولنيزې شبکې نن سبا د کاروبار په پرمختګ کې مهم رول لوبوي. خو په دغو شبکو کې ستاسو د کاروبار اړوند معلوماتو خپرول، کومنټ او پيغام ته ځواب ورکول کېدای شي ستاسو ډېر قېمتي وخت ونيسي؛ ځکه تاسو ډېر نور کارونه هم لرئ، چې بايد تر سره يې کړی. شته داسې کسان او شرکتونه چې کولی شي د ورځې په اوږدو کې په دوامداره توګه ستاسو ټولنيزې شبکې فعالې وساتي او د عوايدو لپاره درته يوه ښه سرچينه وي.

مينه وال کولای شي دغه کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ١ | آمار و کاربرد آن در مريديت جلد اول | عادل آذر/منصور مومنی | ۲۸۰ ؋ |
| ۲ | آمار و کاربرد آن در مريديت جلد دوم | عادل آذر/منصور مومنی | ۲۵۰ ؋ |
| ۳ | مديريت تحول سازمانی | محمد سعيد تسليمی | ١٦٠ ؋ |
| ٤ | مبانی مديريت دولتی | علی اصغر پور عزت | ۲۵۰ ؋ |
| ٥ | توسعه اقتصادی | محمود متوسلی | ۳۰۰ ؋ |
| ٦ | حقوق ديپلماتيک و کنسولی | سعيد خالوزاده | ۲۵۰ ؋ |
| ٧ | مشاوره کودک | دانا ای. هندرسون و چارلز ال.تامپسون/فريده همتی | ۲۸۰ ؋ |
| ٨ | مديريت پروژه | محمد جواد عاصمی پور | ۲۵۰ ؋ |
| ٩ | سنت سرچشمه دانش و تمدن | يوسف قرضاوی/عبدالعزيز سليمی | ٤٥٠ ؋ |
| ١٠ | فقه سياسی | يوسف قرضاوی/عبدالعزيز سليمی | ۲۲۰ ؋ |
| ١١ | عبادت در اسلام | يوسف قرضاوی/محمد ستاری خرقانی | ۲۵۰ ؋ |
| ١٢ | زن در قرآن و در ميان مسلمانان | راشد الغنوشی/زاهد ويسی | ١٥٠ ؋ |
| ١٣ | تفسير آيات احکام قرآن جلد اول و دوم | محمد علی صابونی/مصطفی اربابی | ٨٠٠ ؋ |
| ١٤ | پول ارز و بانکداری | فر در يک ميشکين/علی جهانخانی و علی پارسائيان | ۲۰۰ ؋ |
| ١٥ | حجاب | ابوالاعلی مودودی/نعمت الله شهرانی | ١٩٠ ؋ |
| ١٦ | برنامه ريزی استراتژيک و بلند مدت | محمد رضا حميدی زاده | ۲۰۰ ؋ |
| ١٧ | مبانی سازمان و مديريت | علی رضائيان | ۲۵۰ ؋ |
| ١٨ | نظريه های گوناگون در باری جهانی شدن | حسين سليمی | ۲۰۰ ؋ |
| ١٩ | تاريخ عقايد اقتصادی | يدالله دادگر | ١٨٠ ؋ |
| ۲۰ | دانش و دين داری | دکتر يوسف قرضاوی/عبدالعزيز سليم | ۲۵۰ ؋ |
| ۲١ | مديريت تعارض و مذاکره | علی رضائيان | ١۲۰ ؋ |
| ۲۲ | ټال ناول | نصير احمد احمدي | ١٠٠ ؋ |
| ۲۳ | شات او شوده | شبانه دوران | ٥٠ ؋ |
| ۲٤ | د برياليتوب تور کوچنی کتاب | روبين شرما/مير احمدياد | ١۲۰ ؋ |
| ۲٥ | سخت مزل | کرنل سينډرز/ميراحمد ياد | ١۳٠ ؋ |
| ۲٦ | پر افغانستان د شوروي اتحاد يرغل | محمد طاهر کاڼی | ١۲۰ ؋ |
| ۲٧ | د مړي احکام | محمد عبدالله خوشحال حنفي | ٥٠ ؋ |
| ۲٨ | اسلامي ثقافت او تربيه | محمد عبدالله خوشحال حنفي | ١٥٠ ؋ |
| ۲٩ | د خاورې ميخانيک او د ځمکې پياوړې کيدنه | مجاهد بسام | ۲۵۰ ؋ |
| ۳٠ | کاروبار | رالف براون/سيدنورالله عابد | ٦٠ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړيکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۸٤,٥۰ |
| Rp. | ٤۹٤ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۸,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانۍ

# دا لس ځیزونه هر سهار خپل ځان ته ووایئ

ژباړه: عطا محمد میاخېل

سهار د ورځې تر ټولو مهمه برخه ده، که له کینې اړخ څخه را ویښ شی، نو کولای شی ډاډه شی چې یوه بده ورځ ستاسو په تمه ده، خو برعکس؛ که سم پیل ولری، نو کولای شی په دوام یې ښه ورځ ولری. له ښه غذایي رژیم پرته، نور ځیزونه هم شته چې کولای شي له تاسو سره د ښې ورځې په لرلو کې مرسته وکړي. اوس یې وخت را رسېدلی دی چې هره ورځ سهار دا لس ځیزونه خپل ځان ته ووایئ، څو ښه پیل ولری.

**۱ - نن د محشر ورځ ده**

هرڅوک له نوي ځیز سره مینه لري، دا ژمنه یو نوی پیل دی، چې موږ ته خوشبیني راکوي او دغه راز موږ ته د دې یادونه کوي چې مهمه نه ده مخکې اوضاع څومره بده وه، ځکه چې تېر، تېر شوي دي او اوس یې وخت را رسېدلی دی چې مخ پر وړاندې حرکت وکړئ او هغه نوي فرصتونه چې ستاسو پر لور را روان دي، وې منئ.

یوه نوې ورځ د تازه کېدو لپاره یوه غوره بڼه ده، تاسو یوه بشپړه ورځ فرصت لری چې کولای شی ترې ډېره ګټه واخلئ او پرون هېر کړئ. یوه نوې ورځ د هغې تابلو په څېر ده چې ستاسو په وسیله نقاشي کېدلو ته چمتو ده، تاسو باید شکر پر ځای کړئ چې د ژوند کولو لپاره تاسو ته یو بل چانس درکړل شوی دی. د پرمختګ پر لور ځغلنده ګامونه پورته کړئ. مهمه نه ده چې پرون څومره بد تېر شوی دی، مهمه دا ده چې پرون تېر شوی دی او نور نه شي کولای چې ستاسو پر وړاندې خنډ شي.

**۲- زه کولای شم د خپلې خوښې وړ کس شم**

دا یانې روحیه، موږ ټول خپل خوبونه لرو، خو ټولو ته یې نه رسېږو، ولې؟ ځکه په کافي اندازه هڅه نه کوو، خوبونو ته رسېدل ناشوني کار نه دی، ټول هغه کارونه چې باید تاسو یې تر سره کړی، دا دي چې یوازې خپلې شاوخوا ته وګورئ، څو فرصتونه په ښه توګه ووینئ.

مهمه ده چې په یاد ولرئ، هغه کسان چې خپل خوبونه یې څارلي دي او هغو ته رسېدلي دي؛ هغه کسان دي چې هره ورځ یې خپل ځان ته ویل (زه کولای شم)، هغوی سهار په غوسې او خپګان سره نه دي را ویښ شوي، بلکې هڅه یې کړې ده چې په مثبت لید سره خپل سهار پیل کړي او خپله ټول هڅه یې کړې ده، چې حتی یو ګام هم خپلو خوبونو ته د نږدې کېدلو لپاره په چټکۍ سره پورته کړي.

**۳ - بې ارزښته ځیزونه، زما ورځ نه خرابوي**

ولې درته مهمه ده چې کوم کس تاسو په اینسټاګرام کې انفالو کړي یا کله چې تاسو یې ولیدلی، نو خپله لاره یې چپه کړه؟ د هغو ځیزونو په پرتله چې واقعاً کولای شي د یوه کس ورځ خرابه کړي، دا هېڅ په حساب کې نه راځي، په همدې دلیل هڅه وکړئ چې خپل پام هغو ځیزونو ته ور واړوئ، چې واقعاً مهم دي.

**۴ - پرون تېره شوې ده**

منو یې چې پرون بده ورځ وه! اوضاع ښه پرمخ لاړه نه او هرڅه خراب شول، خو حدس ووهئ چې ښه خبر څه دی؟ ښه خبر دا دی چې پرون تېره شوې او پای ته رسېدلې ده، هر هغه څه چې له پرون څخه پاتې دي، خاطره او درس دی چې کولای شی ترې وایې خلی، نو خپله ټوله هڅه د نن لپاره وکړئ، یوازې د نن لپاره.

**۵ - ماتې خوړل ستونزه نه لري**

کله داسې وخت را ویښېږو او په یاد مو راځي، چې پرون مو د یوه کار د تر سره کولو فرصت درلود، خو په هغه کې مو ماتې وخوړه، دا ډول افکار کولای شي چې له تاسو څخه د سهار لومړۍ برخه واخلي او پاتې ورځ مو در خرابه کړي.

هغه څه چې باید خپل ځان ته یې ووایئ، دا دي چې په حقیقت کې ماتې خوړل، کومه ستونزه نه لري، خپل ځان ته د دې یادونه وکړئ چې ټول ماتې خوري، حتی بریالي کسان هم. موضوع دا ده، که وکولای شی چې له ستونزو څخه درس واخلی، نو کولای شی چې له هغو څخه ګټه تر لاسه کړئ. ماتې یوازې د ودې او ځواکمن راتګ لپاره یو فرصت دی.

**٦ - زه پر خپلو ټاکنو باندې ویاړم**

ستاسو ټاکنې هغه ځیزونه دي چې تاسو تعریفوي، که چېرې د زړه له کومې ځان ته د دې یادونه وکړئ، چې ټاکنې مو په خپلو شرایطو کې سمې وې، نو ښه احساس به ولری. هېڅوک نه شي کولای چې د سمو کارونو د تر سره کولو لپاره پر تاسو باندې نیوکه وکړي، نو په خپلو اصولو پسې ونښلئ او د نورو بېځایه او بې بنسټه خبرې نالیدلې ونیسئ.

**۷ - زه ښکلی/ ښکلې یم**

ښکلا پر خپل ځان باندې د باور لرلو لپاره ډېره زیاته مهمه ده او حتی یو له هغو لومړنیو ځیزونو څخه، چې سهار یې خپل ځان ته وایئ، دا دی چې تاسو ښکلي یاست! په دې ترتیب تاسو په خپل ځان کې مثبت لید رامنځ ته کوی او دا لید به د عمر تر پایه له تاسو سره وي.

**۸ - زه یې تر سره کولای شم**

هو تاسو یې تر سره کولای شی! څو ځله داسې شوي دي چې غواړی د شپې ویده شی او په دې اړه فکر وکړی، هغه کار چې له تاسو څخه غوښتل شوی دی، نه شی کولای تر سره یې کړی؟ څو ځله داسې شوي دي چې سهار د ماتې په احساس له خوبه را ویښ شوي یاست؟ دا احمقانه ده، که تصمیم ونیسئ او هڅه وکړی، هر کار تر سره کولای شی.

سهار خپل ځان ته په هینداره کې ووایئ، چې تاسو په بشپړه توګه کولای شی دا کار تر سره کړی او هېڅوک نه شي کولای چې له تاسو څخه یې په غوره توګه تر سره کړي.

**۹ -زه ډېر خوش چانسه یم چې ژوندی یم**

څو ځله داسې شوي دي چې سهار له خوبه را ویښ شی او د ژوندي پاتې کېدلو په خاطر مو د الله (ج) شکرونه پرځای کړي وي؟ موږ ټول فکر کوو چې هره ورځ ژوندي یاستو او د همدې لپاره دا معجزه نالیدلې نیسو، خو حقیقت دا دی چې موږ بل سهار را ویښ شوي یو او موږ ته د ژوند کولو فرصت راکړل شوی دی، چې دا یانې کولای شو خپلو غوښتنو ته د رسېدو په لاره کې لا ډېره هڅه وکړو.

**۱۰ - نن زما ورځ ده**

په بشپړه توګه همداسې ده! که تاسو ورځ خپله نه کړی، که تاسو هڅه ونه کړی چې په ټول توان سره ورپورې ونښلی او خوشې یې نه کړی، نو دا ورځ ده چې ستاسو کنټرول به په خپل لاس کې واخلي او دا اصلاً ښه نه ده، ځکه چې هغه وخت په کوچنۍ پېښې سره کولای شي، تاسو وځوروي او له خپل تګلوري څخه مو لرې کړي.

## عربي رسنۍ: په غزني کې د نسکورې شوې الوتکې سپرلۍ له طالبانو سره دي

په غزني کې د امریکایي استخباراتي الوتکې تر نسکورېدو دوې اونۍ په تېرېدو دي، خو تازه راپورونه ښيي چې د یادې الوتکې سپرلۍ له طالبانو سره دي.

د العهد په نامه لبنانۍ ورځپاڼې د خپلو سرچینو له قوله ویلي، وروسته تر هغه چې الوتکه نسکوره شوې، طالبان سیمې ته ورغلي او د یادې الوتکې سپرلۍ چې ویل کېږي د امریکا د استخباراتي اداري (سي ای اې) مامورین دي، له ځان سره یې وړي دي. د ورځپاڼې په باور،



دا مسئله د سولې په روانو خبرو کې د طالبانو د بریا لپاره تر ټولو غوره انتخاب دی. ورځپاڼې زیاته کړې، په دې اړه د پنټاګون په توضیحاتو کې وروسته والی او دغه راز د یادې پېښې په اړه د امریکا له لوري ناقصو اطلاعاتو په دې برخه کې شکونه لا ډېر کړي دي. ورځپاڼه دغه راز لیکي، تر یادې پېښې وروسته د امریکا د مرکزي ځواکونو قوماندان جنرال کنټ مکنزي هم افغانستان ته پټ سفر کړی دی. ورځپاڼه د طالبانو د ادعا پر خلاف کاږي، کله چې الوتکه رانسکوره شوې، طالبان سیمې ته ورغلي او په ښتنه کې د راغورځېدلې الوتکې دوه سپرلۍ وژل شوې او ځینې نور یې چې د سي ای اې مهم مامورین دي، طالبانو له ځان سره وړي دي.

## کډوالو چارو وزارت: د اسلاماباد په جوړېدونکي کنفرانس کې د کډوالو د ستونزو پر حل خبرې کېږي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت ویلي، ټاکل شوې چې راتلونکې اونۍ په پاکستان کې د افغان کډوالو په اړه دوه ورځنی کنفرانس جوړ شي.

دغه وزارت ویلي، دا کنفرانس چې راتلونکې اونۍ جوړېږي، د شلو هېوادونو استازي پکې ګډون کوي.

د یاد وزارت د رسنیو د برخې سلاکار عبدالباسط انصاري ویلي، په دغه کنفرانس کې له افغانستانه هم یو لوړ پوړی پلاوی ګډون کوي.

هغه زیاته کړې: «راتلونکې اونۍ په پاکستان کې د افغان کډوالو په اړه یوه نړیواله ناسته جوړېږي، چې په دې کې د افغان حکومت لوړپوړي چارواکي په ځانګړې توګه د کډوالو او بهرنیو چارو وزارتونو استازي ګډون کوي، د دې کنفرانس یوازینی هدف د کډوالو ستونزو ته د نړیوالې ټولنې پاملرنه ده.»



د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت د معلوماتو پر بنسټ، دغه کنفرانس به دوې ورځې دوام وکړي.

دغه وزارت ویلي چې د دې کنفرانس موخه په پاکستان او ایران کې افغان کډوالو ته د نړیوالې ټولنې پاملرنه، ستونزو ته یې رسېدنه او د بېرته راستنېدو لپاره په افغانستان کې د ننه ورته د لازمو اسانتیاوو برابرول دي.

په ورته وخت کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ ویلي، جوړېدونکی کنفرانس د کډوالو د ستونزو او دې ستونزو ته د حللارې پیدا کولو لپاره یو ښه فرصت دی.

په ورته وخت کې په کابل کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ ویاند نادر فرهاد ویلي، دغه کنفرانس د پاکستان د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ په همکارۍ جوړېږي.

هغه زیاته کړې: «دغه نړیوال کنفرانس زموږ او کډوالو لپاره چې باید له یاده ونه ایستل شي، یو هیله ښښونکی فرصت دی، څو وکولای شو له دې فرصته په استفادې د کډوالو ستونزو ته رسېدنه وکړو، دغه شان دغه کنفرانس باید دې ته زمینه برابره کړي چې په افغانستان کې سترې پروژې هغه ډول یې چې حکومت په تطبیق کې جدي دی، نور اړخونه هم جدي و واسي.»

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL PRINTING CO
وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ !
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱۲مه |۵۱۳مه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | ۱۰ | ۱٤ | ۱۱ | ۱٦ | ۱۳ |
| ۳ | -۲ | ۷ | ۳ | ۱۱ | ۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۹ | لمر ختل ۰٦:٤۳ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیگر ۰۳:۱۰ | ماښام ۰۵:۳۳ | ماخوستن ۰٦:۵۸

## نړۍ




## ملگري ملتونه: شمالي کوریا په ۲۰۱۹ ز کال کې اټومي پروگرام په بې ساري ډول پراخ کړی



ملگرو ملتونو ویلي چې شمالي کوریا له بندیزونو سره سره، په تېر ۲۰۱۹ ز کال کې خپل اټومي پروگرام په بې ساري ډول پراخ کړی دی.

د ملگرو ملتونو په کلني راپور کې چې په نږدې راتلونکي کې به د امنیت شورا عمومي غونډې ته هم وړاندې شي، راغلي چې شمالي کوریا د ملگرو ملتونو له خبرداریو سره سره، بیا په ناقانونه توگه د بالیسټیک توغندیو سیسټم په بې مخینې ډول پراخ کړی دی.

د یاد راپور پر بنسټ، دغه هېواد له ۲۰۱۷ ز کال راهیسې پر بندیزونو سربېره، د میلیونونو ډالرو پر ارزښت منعه شوي توکي بهر ته صادر کړي دي. د سرچینې په خبره، پیونگ یانگ د دغو صادراتو په بدل کې له ځینو هېوادونو په مستقیمه او نا مستقیمه توگه په میلیونونه لیتره تېل وارد کړي دي.

په دغه راپور کې له نورو مواردو سربېره، په ځینو هېوادونو کې د شمالي کوریا له خوا انټرنېټي بریدونو ته هم اشاره شوې چې ډېر مالي زیانونه یې اړولي دي. په ورته وخت کې د دغه هېواد مشر کیم جونگ اون ویلي چې په دې شرط به له امریکا سره بیا خبرې پیل کړي چې ټرمپ له ده سره خبرو ته کېني؛ خو ټرمپ بیا د نوموړي غوښتنه رد کړې او ویلي یې دي چې د ۲۰۲۰ ز کال تر ټاکنو پورې هېڅ امریکایي ډیپلومات نه شي کولی چې له پیونگ سره خبرې وکړي.

## نیویارک ټایمز: د سعودي او قطر تر منځ د کړکېچ د پای ته رسولو لپاره پیل شوې خبرې ناکامې شوې

نیویارک ټایمز امریکایي ورځپاڼې ویلي چې د سعودي عربستان او قطر تر منځ د کړکېچ د پای ته رسولو لپاره پیل شوې خبرې ناکامې شوې دي.

سرچینې ویلي، قطر په دغو خبرو کې له سعودي غوښتي چې پر دغه هېواد ټول لگېدلي بندیزونه لرې کړي، بیا دوی تیار دي چې پر نورو اختلافي موارد‌و هم خبرې وکړي، خو د سرچینې په خبره، سعودي بیا د قطر دغه غوښتنه رد کړې او ویلي یې دي چې لومړی دې دغه هېواد په خپل سیاست کې ژور بدلون راولي، بیا به پرې لگېدلي بندیزونه هم لرې شي.

د سعودي یوې ډیپلوماتیکې سرچینې رویټرز ته ویلي، چې هېواد یې له قطر سره د اړیکو د رغولو لپاره له دغه هېواده نوې ژمنې اخیستې چې په خبره یې، مقابل لوري یې دغه څه ونه منل او له همدې کبله روانې خبرې له کومې هوکړې پرته پای ته ورسېدې.

دا په داسې حال کې ده چې سعودي عربستان څه موده وړاندې د دوی په خبره، په سیمه کې د قطر د پاروونکو اقداماتو له کبله پر دغه هېواد سخت بندیزونه ولگول. پر سعودي عربستان سربېره، د عربي ائتلاف ځینو نورو هېوادونو هم له قطر سره خپلې ډیپلوماتیکې اړیکې پرې کړې دي.

## عظیمی: برای ولایت‌های که از هشدار سرازیر شدن سیلاب در آن‌ها خبر داده شده است، تدابیر اضطراری گرفته شد



وزارت دولت در امور رسیدگی با حوادث طبیعی افغانستان می‌گوید که تدابیر اضطراری برای ولایت‌های گرفته شده که از هشدار سرازیر شدن سیلاب در آن‌ها، خبر داده شده است.

احمد تمیم عظیمی سخنگوی وزارت دولت در امور رسیدگی با حوادث طبیعی، شام به رادیو آزادی گفته است که در گام نخست از سرازیر شدن سیلاب‌ها در ولایت‌های هرات، غور، هرات، ارزگان، کندهار و زابل هشدار داده شده است.

وی گفته است: «آمادگی‌های لازم به این ولایت‌ها گرفته شده، پول نقد به کمیته‌های حالت‌های اضطرار این ولایت‌ها انتقال شده و مواد غذایی و غیر غذایی عملاً در گدام‌های این ولایت‌ها وجود دارند.»

آقای عظیمی علاوه بر این ولایت‌ها، به مناطق آسیب دیده در شمال، شمال- شرق، شرق و جنوب- شرق اشاره کرد که زمان سیلاب‌ها در آنجا فرا رسیده و سطح خسارات آن هم تخمین شده است.

او افزوده است، آن‌ها برنامهٔ برای آمادگی در این مناطق و ولایت‌ها را هم ترتیب داده که تا اخیر این هفته تکمیل می‌شود.

این در حالی است که با گرم شدن هوا در افغانستان، برفباری و باران‌های شدید باعث سرازیر شدن سیلاب ها می‌شود که اکثراً خسارات مالی و جانی به مردم می‌رساند.

## ژوند

## د ویټامینونو گولۍ مو پر ناروغیو اخته کوي



په امریکا کې شوې یوې څېړنې ثابته کړې چې د ویټامینونو گولۍ کولی شي انسان پر مختلفو مهلکو ناروغیو اخته کړي. دې څېړنې ثابته کړې چې د ملټي ویټامین (Multi Vitamin) گولۍ زیات استعمال په انسان کې د زړه او سرطان ناروغیو لامل گرځي او هغه کسان چې دغه گولۍ زیاتې استعمالوي، له دې سربېره پر ځینو نورو ناروغیو هم اخته کېږي. د سرطان برخې پروفیسور چې په دې څېړنه کې یې برخه اخیستې، وویل چې د څېړنې په دوران کې ثابته شوې چې غذایي مواد لرونکې گولۍ د انسان پر روغتیا منفي اغیز لري او په انسان کې د زړه او سرطان ناروغیو خطر زیاتوي. که څه هم د روغتیایي کارپوهانو په خبره، دغه گولۍ د انسان د بدن اړتیا نشي پوره کولی، خو بیا هم د نړۍ په مختلفو برخو کې د دغه ډول گولیو استعمال مخ پر زیاتېدو دی او خلک یې په زیاته اندازه استعمالوي.

## فکرونه او نوښتونه



په دې ورځو کې یو کتاب لولم، نوم یې دی «کوچني نوښتونه او ورځنۍ حیرانوونکې طرحې». دا کتاب پاولا انټونلي لیکلی دی. نوموړې په نیویارک کې د معمارۍ، طرحې جوړولو او نویو هنرونو د یوه انسټېټیوت مدیر دی. د خپل کتاب په یوه برخه کې یې د دانیل کادزیک په نوم د یوې طراحۍ په اړه یو مطلب لیکلی و. دی هغه څوک دی چې په خپل نوښت یې د نوشابې د المونیمي قطیو سرپوښونه داسې طراحي کړل چې له خلاصولو وروسته د قطي د پاسه پاتې شي. اوس دا طرحه کولای شو د هغو میلیونونو نوشابو د قطیو پر مخ ووینو، چې هر کال بازار ته راځي. له دې طرحې مخکې، کله به چې خلکو د نوشابې سر خلاص کړ، نو سرپوښ به یې د یوه اضافي توکي په څېر په کثافاتو او یا هم د سړک پر سر غورځاوه چې دا کار د زرگونو کیلوگرامه کثافاتو د زیاتېدو لامل و. حتی ځینې وخت خو به یې د پلې تلونکو کسانو پښې هم زخمي کولې. یوازې یوې نظریې دا هرڅه بدل کړل. یوه شېبه کادزیک له خپلو اولادونو سره ټلوېزیون ته ناست و چې ناڅاپه یې همدا نظریه په ذهن کې تېره شوه.

ماستر ډبټ کارټ
د عزیزي بانک ماستر ډبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداگریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو گټه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank

